یو مازدیګر دغونډ له قوماندانی نه شپږ کسه نوریو ځي افسران راغلل له ځو ړوند بریبتویي معلومیدل چي ګوند یان دي له قوماندان او منشي سره تر ښه ساعت خبرو اترو وروسته قوماندان ددیپو دروازه خلاصه کړه او په ټولو وسله وویشل شوه مونږ پوهیدو چي مجاهدین حمله کوي خو سره له دي چي دېښتي توان نه وُ بیاهم خو شحاله وو په داسي وخت کي له حلیم سره خبره له خطره خالي نه وه خو بیا مي هم هلته لنډ دپوستي په ډډه کي ولید چي دمازدیګر دډوډي لمرله وروستیوړانګو سره یي مرکه اچولي وه ما دمجاهدینو احتمالي حملي په باب خبره ورته وکړه هغه سمدستي له ځایه جګ شو بیله دي چي زما او ځان دخطر په باب څه اندیښنه .ولري په زوره یي ماته وویل ربښتا نن شپه مجاهدین راځي ؟ ما یي دلومړي ځل لپاره په خوله عادي خنداولیدله خیره یي له خوښي وځلیده په امرانه لهجه یي راته وویل ښه نو چي زه څه وایم همغسي به کوي چي مجاهدین راغلل ډزي یي شورو کړي زه به دتکبیر چیغي وایم ټول به ورځو نور به دلته شپي نه تیروو نو رزماله دي ځایه ډیر نفرت دي، ما دده په خبروکي دقوماندان او نورو خلقیانو دراتګ خطر هیر کړ یو ځل بیا مي ښه زړه وریاندي وسوځید او بیا ورو ورو ماهغه په خپل ځاي پریښود او د پوستي په لوري ژر روان شوم . . .

پاس داسمان پر تندي دبي شمیره ستورو درانه محفلونه جوړوو پر کاینات تو د دتیار واو چوپتیا حکومت وُتابه ویل هر څه په درانده خوب ویده شوي زمونږقوماندان او نو رګوندیان په تر ټولو حاکمه مورچه کي په انتظار پراته وو مونږ هم نن ددي اجازه نه درلوده چي ویده شو هر یو په ورکړل شوي مورچل کي ویښ پراته وو نا څاپه له وړاندي غونډ یو نه دتکبیر غږ زمونږ غوږونو ته راغي او بیا دسترګو په رپ کي زمونږ پر پوسته دمجاهدینو دوړو او لویو وسلو کلك برید پیل شو

لږ ساعت وروسته چي دمجاهدینو دتکبیر نوري چیغي هم را پورته شوي حلیم په زوره څو واري الله اکبر الله اکبر ناري تکرار کړي او بیا له پوستي نه جګ شو یو ځل له شاوخوا نه زما په ګهون پر هغه غږوشو

حلیمه وړاندي مه ځه ودریږه مرمي راځي خطر دي خو لکه هغه ته چي دمجاهدینو له خواویل شوي وي چي بي غمه اوسه زمونږ پر چیغویي هیڅ پرواونه کړه او مخامخ روان وُ زما زړه په در باشو هغه مي نا څاپه دمرګ په کومي ګولید زړه مي غوښتل په یوه تیزه منډه ځان وروږسوم تر لاس یي ونیسم او بیرته بي راوګرځوم له ځایه جګ شوم یو ځل بیا مي وریاندي چیغه کړه حلیمه! حلیمه ! راوګرزه

خو دپوستي له سره دکلاشنکوف یوي اوږدي ضربي دهغي پښوته زولني واچولي او شل پنځه ویشت ګامه وړاندي هغه په داسي حال کي چي په ډیر زیار ئیو ځل بیا دتکبیر ناره وکړه په مځکه راپریوت لږ شیبه وروسته هغه غلبیل سینه زمونږ په مخ کي پروت وُ تر سینه یي د سروونو فواري پورته کیدي خو دزړه هغه پټ رازیي دسیني په کپس کي امانت پاتي شو او بیا داامانت له ډیرو نورو رازو نو سره دیوي خړي غوندي په ډډه کي دتل لپاره تر تورو خاورولاندي پټ شو .

مجددي په مطبوعاتي مرکه کې:

ظاهرشاه د افغانستان په ربړه کې کوم رول نلري ...

حضرت صاحب صبغت الله مجددي په خپله یوه وروستی مطبوعاتي مرکه کې ویلي دي چې ظاهر شاه د افغانستان په قضیه کې هیڅ ډول رول نلري پخپله ظاهر شاه تر اوسه له جهاد او دافغانستان لەمجاهد ولس سره څه اړیکی ندی ساتلي او هیڅ ډول عملي قدم یې ندی پورته کړی.

ده زیاته کړیده ښایي په ډاګه و وایم چې ظاهر شاه نه په جهاد کې څه برخه اخستي او نه یې دومره جرئت کړی چې بګرته راوړاندی شي څکه خو هغه په قضیه کې هیڅ ډول رول نشي ترسره کولی. او په موجوده شرایطو کې دهغه له پاره هیڅ ځای ندی پاتي.

ښاغلي مجددي وویل: داسمه ده چې ما مخکې دظاهر خان نوم اخیست خو اوس دا ښکاره خبره ده چې مجاهدین له جهادي قیادت څخه پرته بل قیادت او حکومت نشي منلی.

بله خبره داده چې دظاهر شاه سن او عمر هم ددې تقاضا نه کوی چې هغه ته په دغه ډول نازکو شرایطوکې دڅه رول لوبولو موقع ورکړی.

ښاغلي مجددي دیوې بلې پوښتنې په ځواب کې ویلي دي: در وسي دفدار سیون د مشر له خوا چې له ما څخه د روسي دسفر کوم دعوت شوی ؤ ما د هغې په رابطه له قوماندان احمد شاه مسعود سره خبرې وکړې هغه په بشپړه توګه له ماسره موافق او هم نظره ؤ او دغه دعوت یې یو نیك قدم او دروسي په سیاست کې یو مثبت تحول ګاڼه ښاغلي مجددي زیاته کړه احمد شاه مسعود ټینګار کاوه چې باید لدغه دعوت څخه دجهاد په ګټه استفاده وشي مونږ هم له قومندان مسعود څخه وغوښتل کله چې د عبوري حکومت هیئت مسکو ته ځي باید د قومندان مسعود یو استازی هم پدغه هیئت کې برخه ولري. چې دده له خوا په خوشالي سره ومنل شو. ښاغلي مجددي ویلي دي دروسي په سیاست او پالیسي کې ښکاره بدلون راغلي دي؟ ماته چې دروس د جمهور رئیس له خوا کوم دعوت راغلي دی او زه یې په حیث د (پرزیدنت) مخاطب کړی یم او ویلي یې دي چې زه افتخار کم چې تاسې ته دا دعوت درکوم دا ډیره غټه خبره ده، محترم مجددي داهم ویلي چې نن مونږ تر فشار لاندې یو چې په کابل د عملیاتو طرحه ومنوء او که یې ونه منو نو بیا به مونږ سیاسي فعالیت نشو کولی یواځې به په شخصي او عادي توګه په پاکستان کې داوسیدو اجازه راکول کیږي او یا به داخل ته ځو او یا هم خارج ته.کله چې له مجددي صاحب نه دامریکا غږ خبریال پوښتنه وکړه چې داسې ده او تاسې څه صلاحیت نلرې نو بیا مو د ریاست چوکۍ ولې داسې ټینګه نیولې او استعفی نه کوی؟ دوی وویل استعفی خواسانه ده خو بیا میدان تنها نجیب ته پاتې کیږي زه مجبور یم چې په ریاست باندې پاتې شم.

مجددي پدې یو ځل بیا ټینګار وکړ او ویې ویل: ما څو څو واره داپه ډاګه کړې ما داخبره هم د مجاهدینو مشرانو، او هم د پاکستان حکومت ته کړیده چې په هره هغه غونډه، پروګرام او مجلس کې چې حکمتیار برخه ولري زه له هغه سره نشم کیناستلی حتی په یوه مجلس کې هم زه له هغه کیناستلو ته حاضر نه یم.

دافغانستان د جهاد ...

او د خپلو حبرو په ترڅ کې یې مجاهدقوماندان انجنیراحمدشاه مسعود چې دځینو جهادي مصروفیتونو له کبله یې په مخکینو غونډو کې ګډون نه وکړ ی د غونډې د متصدي په توګه پیشنهاد وکړ چې د غونډې دبرخه والو له خوا ومنل شو.

وروسته بیاد غونډې اجنداء د ټاکلو په هکله خبرې وشوې ددې ورځې په سبا د غونډې دوهم مجلس د سهار په (۹) بجوپیل شو او په اجنداء کې دشاملو موضوعاتو په هکله هراړخیزې خبرې او جروبحث وشو .اوضمنا" له قوماندانانو څخه یو(۹) کسیز کمیسیون وټاکل شو تر څو د جهاد پورې مربوطو مسأیل په ژوره توګه وڅیړی، تصمیمونه او د حل لارې چارې په ګوته کړ ی او د تصویب لپاره یې عمومي غونډې ته وړاندې کړی.

د (۹)کسیزکمیسیون په غړیوکې:

دپکتیاله ولایت څخه الحاج مولانا جلال الدین حقاني اومحترم اخترمحمد ټولواك

دپروان -کاپیسا له ولایت څخه محترم انجینر احمدشاه مسعود

دکابل له ولایت څخه محترم عبدالحق ،محترم بلال نیرم اومحترم محمدانو ر

دبغلان له ولایت څخه محترم عبدالحی حقجو.

دکندهار له ولایت څخه محترم صالح محمد (مشهورپه ملاملنګ)

او دغزني له ولایت څخه محترم سیدجګن شامل ؤ.

ددغه (۹) کسیز کمیسیون په شمول د قوماندانانو دشورې په دغه غونډه کې د هیواد له بیلابیلو ولایتونو څخه (۳۳)تنو نومیالیو قوماندانانو برخه درلوده چې نومونه یې دادي:

د غزني له ولایت څخه قاري باباو الله یار له وردګو اومیدان څخه امین وردګ دهلمند له ولایت څخه خلیفه عبدالواحد له قندز څخه سیداکرام الدین اوداکتر شمس له بغلان څخه مولوي محمد عمر (مشهورپه "ګجر" اخندزاده له میدان څخه جوادي له کابل څخه علوي او فضل الکریم

له پروان څخه عظیمي له تخار څخه عبدالاحد له پنجشیر څخه قانوني، له بلخ څخه مولوی عبدالعزیز له هرات څخه د تورن اسمعیل خان نماینده حاجي قاري ،له پکتیا څخه حاجي میرزا له قندهار څخه مولوی فاروق له پکتیا څخه حاجي عبدالباري او حاجي محمدامین له ننګرهار څخه نصرالله له پروان څخه ډاکترنجیب الله له هرات څخه ورون غلام محمد نظري او طاهر زماني.

دغه غونډه هم د دوونیمو غونډو پسې شان دیو پریکړه لیک په تصویبولو سره په ۲۰ / ۷ /۱۳۶۹نیټه پای ته ورسید.

والی سابق ارزگان گفت ...

ولسوالي سپین بولدك درمحضرسه صدنفر قوماندانان برګزار ګردیده بود ولی خان جنبش سابق والی ولایت ارزګان که اخیرا" توسط مجاهدین هنګام فتح آن ولایت دستګیر ګردیده است به سوالات، خبرنګاران پاسخ ګفت.

. وی اعتراف نمودکه ازسال ۱۳۶۱ عضویت حزب خلق را داشتند وقبل ازانکه ازاواسط ماه حمل سال ۱۳٦۸ بحیث والي سرپرست مقررګردیده هم‌چنان بحیث قوماندان سرپرست کندک اوپراتیفی څارندوی ایفای وظیفه می کرد.

وی باین حقیقت معترف ګردیده است که درنتیجه عملیات مجاهدین ناګزیر به تسلیمی شده است. دربن عملیات دوصدتن از قوای حکومت هلاك، شده اند. در موردسرنوشت والي سابق ارزګان وسایرایشان ګفته میشودکه حکومت موقت افغانستان آنهـا را بر اساس شریعت دین اسلام محاکمه خواهدکرد.

د قوماندانانو شورا له جهادی تنظیمونو پرته ...

حکومت مسئولین او یاجهادی تنظیمونه-حکومت په داخل کې پلې کوی‌نودا یواځې په هغه صورت کې امکان لري چې قوماندانان متحد او منظم وي او د پوره اتفاق او مشترکې پالیسي او طرحې له مخې هغوی ته عملي امکانات برابرکړي.

پدې رابطه باید وویل شي چې د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت – دواړه د قوماندانانو د فوت همکاري او نقش له مخې تشکیل کړی شي بیانوداحتمي خبره ده چې داوزارتونه داخل ته بخپله انتقالیږي او پیاده کیږي او د عملي چارو په ترسره کولو به پیل کوي. په پیښور کې به یوې نمایندګۍ پرته به یې نور ټول قوتونه په داخل کې متمرکزوي‌دا څکه چې قوماندانان همیشه په داخل کې وي او له داخل څخه دمقاومت او جهادی صفونو تنظیم او بسیج کول په ښه توګه ترسره کیدلی شي.

همدارنګه په آزادو-سیمو کې د تعلیمي او صحي فعالیتونو پراخول او د امنیت ټینګول هم پدغه صورت کې په ښه توګه تامیندلی‌شي دپاټکونو اچولو ستونزه چې اوس هرتنظیم په لارو کې بیلابیل پاټکونه اچولي او، لدې لارې یې خلك او ولس له ډیرو کړاوونو سره مخامخ کړي دا هم لە همدې‌لاري حل کیدلی شي داټول پروګرامونه او طرحې هغه وخت پیاده کیدلی شي‌چې د قوماندانانو ددغه ډول سرتاسري شورا ګانو پریکړې عملي شي او لدغې لارې بیادیوې واحدې ادارې د رامنځته کیدوله اړخه داټول مسایل اوربړې‌حل‌کیدلی‌شي. داپخپله د تنظیمونو دمشرانواو عبوری حکومت لپاره یو طلایي چانس دی څکه تر اوسه د رهبرانو په منځ کې کوم مخلصانه اتحاد منځ ته ندی‌راغلی اونه هم په نږدې راتلونکې‌کې چندان متوقع ښکاري.حتی دوه تنظیمونه هم په یوه طرحه تر اوسه ندی سلا شوي څکه خود دوی لپاره دا یو واحد چانس دی او د دوی تر منځ که اتحاد راځي نو هم له همدې لارې به راځي څکه د هرډول پروګرام دعملي کولو لپاره دا ضروري وه چې عبوري حکومت او د تنظیمونو مشران د قوماندانانو له شورای څخه نتایج واخلي.

مونږ څوځو واره پدې، رابطه له جهادي مشرانو سره ملاقاتونه کړي او دوی هم دخپلې همکارۍ داډ‌را کړی دی-له بلې‌خوا لدې پرته د حل بله لاره‌فکر کوم نه وي.

همدارنګه دا له سیاسي درایت او حکمت څخه لیرې خبره ده او د شریعت داتقاضا نده چې‌څوک دی د دغسې نیك مؤثر او بریمن پلان مخالفت وکړي.

داسي تصور باید پیداکړی شي چې ګنې تنظیمونه او عبوری حکومت بیل اومستقل دي او قوماندانان بیل. قوماندانان یواځې د جهادي مشرانو د اتحاد د پروګرامونو او دحل دیوې معقولې او مناسبې طریقې او اسانه لارې د پیداکولو په لټه کې دي‌څو جهادي مشران حبل منځې اتحاد ته ورسیږي او حکومت څنګه پلې شي، انتخابات څه ډول ترسره شي او مهاجرین څنګه په داخل‌کې په آزادو سیمو کې ځای‌پرځای‌شي، دستنید و مشکل څنګه حل شي اود بیا ودانولوچارې څه ډول پر مخ بوتلل شي. اسلامي احکام تطبیق شي او امنیت رامنځ ته شي او دمزدورزیم د ړنګولو په خاطرجنګ، څنګه منظم شي.

دمتحد المان نن - پرون او سبا

س.م.د هاشمي

څلورمه دمخه (داکتوبر په ۳نېټه) نړيوالو د په لـه ايزو ارتباطي وسايلو له لارې د دواړو المانونو، د يوځای کېدو خبرواورېده . د جهان پـه سياسي جغرافيه کـې د دوهـم ځـل لپاره ديومتحـد المان رامنځ تـه کېدل کومه معمولي خبره نـه بلکې د نړۍ پـه معاصر تاريخ کې يې يونوی باب پرانيست.

دمخـه تردې چـې د دواړو المانونو د وحدت او د هغه د راتلونکې په باب څـه ووايو لازمه ده چې ددغـه هيواد د متحدې را ورسـنـد ماضي او د (٤٨)کـلـن بېلتون پـه سياسي پـس منظـر يوه لنډه او ځغلنده رڼاواچـوو:

المان پـه يوولسمـه ميلادی ـ پېړۍ کې د نړۍ له پياوړی اوځواكمنو هيوادونو څخـه و،وروسـتـه بيا د وخت پـه تيريدو سره يې ځينې برخې له لاسـه ورکـړې. پـه ۱۸۶۱م کال اول ويلهـم قدرت ته ورسيد او څـه وخت وروسته يې د قدرت واکـې خپـل صدراعظـم بسمارك ته وسپارلې چې نوموړی په اروپاکـې د يومتحد او ځواكمـن جرمنی جوړولو په هيله درې ځـله د جګـړې ډګـرتـه ورودانګـل او ديروس ـ اطريش د جنګ لـه ډګـر څخـه فاتـح راووت.په۱۸۷۰ كال يې د فرانکوپروسيان پـه جګـړه کـې فرانسې تـه ماتـې ورکـړه او پدې ترتيب د لومړی ويلـم تر واكمنی لاندې پـه ۲۲اياـلتـو مشتمل يو متحداو مقتدر المان منځ تـه راغـلـی .

پـه ۱۹۱٤م کال ددغـه هيواد واکمن لـه خپلې خاورې سـره د نورو هيوادو نو د يوځای کيد و پـه تکـل د لومړۍ نړيوالې جګړې ډګر تـه ورودانګـل خـو پـه نتيجـه كـې يې سختـه ماتې وخـوړلـه. د المان د خلكو پاڅون په نتيجه كـې دوهـم ويلـم د قدرت واكـې لـه لاسـه ورکـړې ، په المان کـې جمهوريت اعلان او رابرت دلومړني رئيس جمهورپـه توګـه وټاکـل شـو پـه ۱۹۲۵م کال د رابرت تـر مړيني وروسـتـه مارشال هيندنبورګ د جمهور رئيس شـو.(۱۹۳۲م کال پـه انتخاباتو کـې نازی ګوند بريالی‌شو او هټلر صدراعظـم شـو .هټلر د هغه نبوغ تر مړنی وروستد ددولت ټول اختيارات تر لاسـه کـړل د وارساتړون پـه لغوه او د هغـه پرځای يې له ايټاليا سره تړون وکړ.

هټلر په ۱۹۳۹م کال د لومړی جهانی جګړې د ماتې د جبرانولو او د نړۍ د مخ پر زياتو هيوادو نو د المان د حاکم ګرځولو پـه هيله لومړی د پولينډ سره جګړه پيل کړه چې همدغه په حقيقت کې د دوهمې نړيوالې جګړې پيلامه وه . د لويديځ اروپا ډيره برخه يې د بالکان د جزيرې په شمول تر خپل واك لاندې راوستله .

په ۱۹٤۱م کال د جون پـه۲۲ نيټه يې پر مسکو حمله پيل کـړه او عسکر يې پـه ډيره چټکتيا سره د مسکو تر (٤٠) کيلومترۍ پورې مخ په وړاندې لاړل.

پـه ۱۹٤۲م کال يې د ايټاليـا په ملتيا له امريکا سره دجګـړې اعلان وکړ خو بيا وروسته امريکـا انګلستان ،فرانسه او روس د يوې لـه مخې په ګډه د المان مقابلـه شروع کړه چې په نتيجه کې دالمان دفاعی کرښې يوه په بله پسې‌ماتې شوې او بالاخره روسي پوځونه اود متحدينو قواوې له بېلو بېلو اړخونو څخه دغې خاورې ته ورننوتې .ټوله ختيځه برخه يې روسي قواو ونيوله او لويديځه برخه يې د فرانسـې امريکا او انګلستان تر واك لانـدې راغلـه .المان پر دوو برخو وويشل شو ختيځه برخه يې د وارسا او لويديځه برخه يې د ناټو په پکټ كې داخله شوه.څه وخت وروسته بيالـه لويديځ المان څخه د متحدينو قواوې ووتلې او د فدرال المان پـه چوکاټ کې يې د خپلو طبيعـې ذخايرو او له غرب او نورې نړۍ سره يې د آزادو صنعتي اواقتصادی اړيکو په قايمولو سره دپرمختګ پړاونـد ووهل اوپه ختيځ المان کې چې جبرا" د نړۍ په سياسي جغرافيه کې د المان د ديموکراتيـك جمهوريت په نامه ناروزوګړ د روسانـو د مستقيمي سلطې اثرات تر پايـه پاتې شول او د سوسيالستي اقتصادي سيستم لاره يې ونيوله د پرمختګ له کاروان څخه ډيروروسته پاتې شو او د کمونستانو د وحشت او دزورـ زياتي او اقتصادي وروسته والـي پرته يې بل څه پـه برخـه نـه شـول .

دغـې د کمونستانو زورزياتي ، او وحشت له يوې خوا او د سوـ سيالستي نظام محدوديتونـو او اقتصادی ستونزې له بلې خواد دې باعث شو چې خلك ځانونـه لـه دغې بـلا څخه وژغوري نولـه ختيځ المان څخه لويديـځ المان تـه تيښتې او فرار پيـل ، ورمات شواو بالاخره داسې حدتـه ورسيدل چې ورځ نـه ورځ شاروي هم ددې کار مخـه ونشوای نيولای.شرقي المان د روسانو په دستور او قومانـده په ۱۹۶۱م کال کې د برلين پـه منځ کې د ۱۲٥ مترو په اوږدوالی، او دوو مترو په لوړوالی د شپې يو ديوال جوړ کړ دديوال پـه ځينـو برخو کې يې ځاړونکي پوسـتـې او خاردار او لوځ برقي سيمونـه چاپيرکـړل او دغـې يې له ختيـځ المان څخه لويديـځ المان تـه دتښتيدونکو مخې ته نسبي خنډونه رامنځ ته کړل ،خوبيا هم په ټولـه معنی يې د تښتيدونکو مخه ونشوه نيولای ډير د مؤظفو ځارونکو لـه خوا ووېشتل شول زيات شمـېر سنديان شول او يوشمير وکـړی د ټول ـ ډول ستونزو او کړاوونو پـه زغملو سره لويديـځ المان ته واوښتل.

پر افغانستان باندې د روسانـو مستقيم تيری او د هغوی په مقابل کې د افغانستان د مسلمان ملت قهرمانانه جهاد او مقاومت او په نتيجه کې د روسي ښکيلاك شرمېدلـې ماتې ټولې نړۍ خصوصا" د روس دمستقيمې او غير مستقيمې ښکيلاک لاندې سلطې لاندې هيوادونو او ولسونو ته ددغه نړيوال ښکيلاك اوکمونستـي سيستم پر ضد د مقاومت جرأت ورکړ چې ډير ښه مثالونه يې دليتوـانيا ،تاجکستان ،آذربايجان،رومانيا بلغاريا ،پولينډ،چکوسلواکيا او دـ ختيځ المان او...دخلكوقيامونه دي.

په ختيځ المان کې تېر كال د خلكو د مظاهرو او اعتصابونو پـه نتيجه کې د هغه هيواد د کمونست ګوند د مرکزي کميتې منشي‌اوجمهور رئيس اريش هونيکر او دسياسي بيرو او مرکزي کميتې غړي استعفا تـه مجبور شول او ځينو يې خودکشي وکړه او وايکون کرنس د حکومت د مشرپه توګه وټاکل شو د نوموړی د حکومت په دوره کې مظاهرې او ـ اعتصابونه اوج ته ورسيدل تر شپږ اوونيووروسته يې استعفا وکړه او د کموـنست حزب د اصلاح غوښتونکـې ډلې قدرت تـه ورسيدلو لاره چاره برابره شـوه.د روسي ښکيلاك او د کمونستي او سوسيالستي نظامونو پر خلاف د خلکو د پاڅون د قهر او غضب په څپو کې د۱۹۸۹ع کـال د نومبر په ۹ نيټه (۱۳۶۸ش دعقرب۱۸) د برلين ديوال چې په واقعيت کې يې د يو وجود زړه دوه ټوټـې کـړی و، او ديو ولس په منـځ کـې د بيلتون تحميلي کرښـه و، ونـړيـد .

د برلين دديوال نړيدل په حقيقت کې د دواړو المانونو د يوځای‌کيـدو لپاره لومړنی ګام و، . ددغه ديوال په نړيدو سره له ختيځ المان‌څخه لويديځ المان ته د خلكو بهير ورمات شو.

د برلين دديوال ترنړيـدو وروسته د (۱۹۸۹د نومبرپه۲۸) د فدرالی المان دديموکرات ګونـد مسئول هلموت کوهل د دواړوالمانونو د يوځای کيدو پيشنهاد وکـړ.

د ۱۹۹۰ ع کال د مارچ په ۱۸ ـ نيټه په ختيځ المان کې انتخابات وشول چې په نتيجه کې يې قدامت غوښتونکي اتحاديې تر لاسه کـړ او د ۱۹۹۰ د اپريل په ۱۲يې لوتردميزـ اير د المان دصدراعظـم پـه توګه انتخاب کـړ .

بالاخره د روان عيسوی کال د سپتمبر پـه ۱۲ نيټه داپريکړه وشوه چې دواړه المانونه بايدداکتوبرپـه دريمـه نيټه سره يوشي چې بياورسته په نوموړې نيټه داپريکړه عملي شوه او نن د نړۍ په سياسي جغرـ افيه کې ديومتحد المان موجوديـت تثبيت شو .

له غربي المان سره دشـرقي المان د۱۷مليون نفوس او ۱۸۱، ۱۰۸ کيلو متر مربع ځمکنی‌مساحـت ديوځای کيدو په نتيجـه كـې اوس ددغه هيواد مجموعی مساحت ۳٥۶،۸۰۶ او دنفوسـوشمير (۷۸) مليونه ته رسيږی ۰

د دواړوالمانونو د يوځای کيدواو د هغه د راتلونکی سياسي‌تشخص او پس منظر په هکله دنړۍ په سياسي حلقو کې ډول ډول تبصرې روانـې دي .ځينې داسې عقيده لري چې واحد المان به په غربي بلاك پورې تړلی پاتې شي او د ځينو بيا دا خيال دی‌چې متحدالمان به دشرق او غرب بلاکونو له مستقيم او غير مستقيم اغيز پرته د ځان لپاره يو بله سياسي او اقتصادی لارغوره کـړي.

داچـې متحدالمان به دځـان لپاره په پورتنيو دوولاروکـې‌کومه يوه غوره کړی د وخت په تيريدوسره به ثابته شي .خو څه شی چې اوس نړۍ په ځانګړی توګه غرب انديښمن کړی هغه دادی چې د يومتحـد او ځواكمن المان موجوديت دتاريخ، تيرې ترخې تجربې (۱۹۱٤-۱۹۱۸م د لومړی نړيوالې جګړه) او (۱۹۳۹-۱۹٤٥دوهمې نړيوالې جګړه)بياتکرارنه کـړي.

سره له دې چې اوس المانيان دااستدلال کوي چې له المان‌څخه په راتلونکې‌کې هيڅ هيوادته خطر متوجه نه وي او بنايي د دوی، همدغې استدلال د نړۍ د ځواکمنو هيوادنو مشران پدې قانـع کړیوي چې د دواړوالمانونووحدت مسئلـه ومنـي.

پـه ټولو د ګرو کې زړور او باجرئته هغه دی چي نا اميده کيږی نه ، د ژوند له ناکاميو څخه مه مايوسه کيږئ . هغه ژوند کامياب ژوندی‌دی چي يوائځی کامرانی ولری .

د رژيم نوی بمباری

د خپل ناولی دښمن ټولو دسايسو و ساوسو ، توطيو ، حربو او نويو تاکتيکونوته متوجه وی . خصوصاً له صدرالدين آغا خان سره ترليو ټيمو نو او پلو ته اجازه ورنه کړی چې د مجاهدينو له لارې افغانستان ته د ننه شي، څکه دوی د افغانستان د خلکو په سره جنګولو سر بيره خلك هڅوی چې له رژيم سره لاره پيدا کړی او واک ورکوی چې دوی به بيا له هغې لارې له دوی سره لازمی اولويی مرستی وکړی.

له دی امله زمونږ سپيڅلی اسلامی انقلاب چې د بر ياليتوب په پړا و ولاړدی دهغه بشپړه کاميابی او ساتل زمونږ زياتی بيداری او ويښتا ته اړه لری.

سره له دی چی اوس المانيان دااستدلال کوی چی له المان‌څخه په راتلونکې‌کی هيڅ هيوادته خطر متوجه نه وی او بنايی د دوی، همدغی استدلال د نړۍ د ځواکمنو هيوادنو مشران پدی قانـع کړیوی چی د دواړوالمانونووحدت مسئلـه وزغمـی.

موسس : الحاج مولوی جلال الدین "حقانی"

دهیئت تحریر تر نظر لاندې

مکاتباتي پته
پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)
پېښور ...

مسوول مدیر
الحاج عبدالباري ننګیال

مرستیال
سید محی الدین هاشمی

پـه بیت المقدس کي دیهودیانو سره دنښتو په ترځ کي:

(٤۷) مسلمانان شهیدان او (۱۰۰۰) تنه ټپیان شول

په بیت المقدس کی دیهودیانو سره د نښتو په ترځ کی (٤۷) تنه مسلمانان شهیدان او ۱۰۰۰ تنه ټپیان شول

بیت المقدس دتلی (۱۹):

په بیت المقدس کی دیهودیانو او مسلمانانو ترمنځ سختي نښتي شوي

دنوموړی سیمی څخه خبری سرچینو رپوټ ورکړی چی نښتي هغه وخت پیل شوی چی په زرګونو مسلمانانو د بیت المقدس پهشاوخوا کی دیهودیانو ددی اقدام پرخلاف چی غواړی د (مسجداقصی) پرځای ځان ته دعبادت ځای جوړ کړي، غونډه وکړه او پریهودیانو یی تیری واړولی چی د دوی په ځوابکی یهودیانو پر دوی ډزي پیل کړی.

خبرزیاتوی: ددی نښتوپه دوران کی (٤۷) تنه مسلمانان شهیدان او (۱۰۰۰) تنه ټپیان شول.

دخبر په پای کی لیکی: د بیت المقدس په بیلابیلو ځایونو کی نښتي جریان لری او تر اوسه د دقیقو تلفاتو شمیر ته دی معلوم.

دلبنان د عیسایي قواومشر مشل عون د فرانسی سفارت ته پنا یووړه

بیروت دتلی (۲۱):

دلبنان د عیسائی قواو مشر "مشعل عون" په لبنان کی د فرانسي سفارت ته پنا یوړه او خپلو پوځیانو ته ئی امر کړی چی د، د "الیاس هراوی" له پوځیانو سر ه یوځای شی.

"مشعل عون" د راډیو له لاری د یوی وینا په ترځ کی ویلی: هغه ته غواړی چی تردی وروسته وینی تویی شی.

هغه زیاته کړی: ماد "اسلاف" سره ترلیدلو وروسته داګام پورته کړي، "جنرال لاود" د جمهور رئیس "هراوی" دپوځیانو مشر دی چـا چی پرون سهار د شامی پوځیانو په مرسته په ختیځ بیروت کـی "مشعل عون" پرمانی حمله وکړه له بلی لوری ویلی کیږی چی جبهی الوتکوهم دمشعل عون پردفاع وزارت او ددد د اوسیدو پر ماڼی بمباری کړی

دمشعل عون یوه ویندوی ویلی: الوتکو پر دواړو ماڼیو سخته بمباری وکړه خو د دقیقو تلفاتو شمیرنه دی معلوم.

"مشعل عون "د "الیاس هراوی" ریاست جمهوری ته غاړه نه کیښوده او د "الیاس هراوی"دقدرت ته رسیدو راید دپخوا ئې لبنان د سختو داخلی ستونزو سره لاس ګریوان کړی وه

عون د هراوی تر قدرت ته رسیدو وروسته د جمهوری ریاست ماڼی اشغال کړی و ه.

په هند کي (۳) لکوتنو مامورینو په اعتصاب لاس پوری کړ

نوی ډهلی دتلی (۲۱):

په هندکي (۳) لکوتنو دولتی مامورینو د بونډنو د ترلاسه کولو په خاطر د (٤۸) ساعتو لپار ه اعتصاب پیل کړ.

ویل کیږی داعتصاب له امله دتیلو تولید او نوري تولیدی موسسی سختي متأثـرد شوی او د هنددولت پهرنیو هیوادونه خپل (۵۰) فیصد الوتنی کمی کړی.

د مصر د پارلمان و یندوي ووژل شو

قاهره دتلی (۲۰):

د مصر د پارلمان نطاق "رفعت محجوب" د نامعلومو افرادو له خوا ووژل شو.

د نوموړی سیمی څخه نړیوالـو خبرچینو رپوټ ورکړی چی نامعلومو کسانو پر ده ډزی وکړی او سخت ټپی شو خو وروسته په روغتون کـی په حـق ورسید.

د مجاهدینو د در ندو عملیاتوله امله مزدور رژیم ته درانده تا وانونه وراوښتي دی

مجاهدینو دهیواد په ټولوبرخو کی د مزدور رژیم پراضیتی پوستو خپل عملیات ګړندی کړی دی.

د کلات ښار څخه په رارسید لو خبرونو کی ویل شوی چی مجاهدینو د "کلات" د "غاشی ساری" او "خوه کومی" په سیمو کی ددښمن پرپوستو عملیات سوته رسولی چی د هغوی له امله د مزدور رژیم (۲۰) تنه وژل شوی او (۲۰) ټانګونه لـه سځـه تلی.

خبرزیاتوی: همدارنګه مجاهدینودکابل پرشاوخوا پوستو هم خپل عملیات ګړندی کړي چی دهغو په ترځ کی ددښمن دری پوستی فتحه شوی او دښمن ته ئی زیات مالی او ځانـی تلفات واړولی دی.

په الجزائر کي د امریکا سفارت مخی ته په زرګونو تنو مظاهری وکړی

الجزایر د تلی (۲۱):

په الجزایر کی له پنځوزرو زیات خلك د امریکا سفارت خانی مخی ته راټول شول او د امریکا پرضـد ئی مظاهري پیل کړی.

دنوموړی سیمی څخه نړیوال خبری آژانسونو رپوټ ورکړي چی مظاهر ه کوونکو دامریکا پر ضد شعاروـــه ورکول او د امریکا او اسرائیلو بیرغ ئی اور ورته کـړ.

خبرزیاتوی: مظاهرد کوونکو په خلیج کی د امریکا پر لاسوهنه دخلیج مسئلی دحـل او د سیمی څخه د بهرنیو پوځونو وتل وغوښتل.

آمر سیداحمد ...

قوماندان شریف الله قلا" تحت نظر قوماندان اسمعیل خان وحکمتي علاوالدین خان طرح شده بودسا سهمګیری دوتن او مجاهدین بـه عمل ګذاشته شد که علاوه بـر هلاکت امرسیداحمدبا پانزده تـن دیګر ازملیشاسی دوتن از ملیشا ی مزدور مذکور نیز جراحت برداشتند

امرسیداحمد وهمکارش داوُدکه چندی قبل به جزاي اعمالش رسید، ازعمال خاین رژیم کمونست کابـل بودند که برعلاوه صف اراي علیه مجاهدین در هرات، به سایرولایت ملیشاي حوبترا بخاطر جنګ علیه مجاهدین اعزام می نمودند.

سرکوبی این عنصر خاین ضربه محکمی است بر نیروي اجیر ملیشاي دولت ... هرات ودرس عبرتی است براي ... اجیران رژیم کمونست کـابـل.

بافعالشدن شوراي ...

در منطقه توپخانه بدخشان بـه اشتراك قوماندانان مشهور جهاد ی سراسر افغانستان دایر ګردیده بود بـه عهده داشته است، موصوف درمصاحبه با صداي امریکا ضمن توضیح مسایل جاری افغانستان ګفته است بافعال شدن شوراي قوماندانان جهاد افغانسـتـان بـه شوراي نظار سمت شمال دیګر کدام ضرورتی باقـی نخـواهـدبـود.

دحزب اسلامی د ننګرهار ...

د فرضی عملیاتو دمخنیوی لپاره دفاعی تدابیر ونیسی چی په همدی وخت کی ددښمـن دلری ویشتونکو، توپونو ګولی ددوی پرمرکز ولګیده او په دی ترځ کی د ورورابراهیمی په ګډون (۹) تنه قوماندانان دشهادت لوړ مقام ته ورسیدل.

خبر په پای کی لیکی: شهید ورور ابراهیمی د نصرت مینی په هدیره کی خاوروته وسپارل شو.

دهیواد په داخل کی د...

او انقلابـی حـرکـت او بـدلـون تـه منتظر وه.

پـدی وروستیـو وختـو نـوکی یـولړ آوازو او مـوضـعګیـریـو د تشـویـش یـوه داسـی ګـرد جـنـه فضا رایـیـدا کـړی وه چی د هغـی پـه لیـدو سـرد د راتلـونـکـی او مستقـبـل پـه رابطه د نـویـو انـدیـښـنـو لړی رایـیـداکـیـدونـکـی سـکـاریـدی.

پـه همدغـسـی یـود حسـاس او نـاکـونـکـی پـړاو کـی د امیـد ستـرګـی د انقلاب هغـو مـوثـرو، او فعـالـو عـنـاصـرو تـه اوښـتـی چـی د مقـاومـت د اداری او پـر محـتـلـو مستقیم کنـتـرول د دوي پـه لاس کـی دی ـ ځـکـه پـه تـیـرو دولسو کـلـونـو کـی د جـهـاد سیـاسـی مشرانـو ونـشـوای کـولـی پـه هغـو مشـکـلاتـو بـریـالـی شـی چـی د اتـحـادیـه لارکـی وحـت پـر وخـت د دوی پـه مخـه کـی را ولاړیـدل. او نـو ر انتظار او د ازمـویـلـو ازمـویـښـت د وخـت لـه ضـاع او د فرصـت د لاسـه ورکـولـو پـرتـه بـلـه معـنـا نـلـرلـه پـه همدغـسـی شـرایطـو کـی یـواځـینـی ہموره او امیـد قومانـدانـانـو تـه کـیـده کـوم چـی دوولـس کـالـه یـی پـه سخـتـو شـرایطـو کـی جـهـاد او مقـاومـت پـر مـخ بیـولی او دمقـاومـت کـاروان یی دبـری منزل تـه نـژدی کـړیـدی او پـه رښـتـیـا هـم ځـنـګـه چـی قـومـانـدانـان مستقـیـمـا" د جـهاد اداره پـه لاس کـی لـری او لـه بـی اتفـاقـی څخـه د راولاړ شـویـو پـه بـخـتـیـو سـرد تـر ټـولـو ورمـبـی دوی لاس او ګـریـوان دي لـه همـدی امـلـه ددوی پـریـکـړی او فیصلی هـم پـدی رابطـه ځـکـه نتیجـه ورکـولـی شـی چـی حالات او قـضـایـا پـه بشـپـړ تـوګـه د دوی پـه واك کـی دی او اخـتـلافـاتـو پـه تیرو خـتـونـو کـی تـرټـولـو زیـات دوی او د دوی جـهـادی ځـواکـونـد او فـعـالـیـتـونـد زیـانـمـن کـړیـدی.

زمـوږ هیلـه او دعـاده چـی د دغـو شـوراګـانـو د فیـصـلـو د تطبیـق پـه لار کـی زمـوږ سیـاسـی مشران هـم د زړه لـه تـلـه مـرسـتـه او همکـاری وکـړی.

پـه خلیج کی د...

او ګـرمی الوتکو پروازونو تـه دوام ورکـړ.

ویل کیږی د هغي وخـت چی امریکا سعودی عربستان او خلیج ته پوځونه لیږلی د امریکا (۲۰) الوتکی رانسکور شوی چی په ترځ کی تر (۳۰) زیات امریکائي پوځیـان وژل شـوی.

په هند کي یو اور ګاډي وسوځول شو

حیدرآباددتلی (۱۸):

دهند د حیدرآباد سیمی پـه جنوبی برخه کی چپی لاس اړدوړ کوونکو یواورګاډی ته اور ورته کړ.

د نوموړی سیمی څخه نړیوالـو خبری اژانسونو خبر ورکړی چـی چپی اغتشاشیونو د وی،پی، سنګ د فیصلی پر ملاتړ مظاهری وکړی او په همدی ترځ کی د حیدرآباد ښار څخه (٤۰) کیلو متره لـیـری یوه اورګاډی ته اور ورته کړ چـی د هغی له امله (٦۰) تنه ووژل شول.

د مزدور رژیم (۱۷) تنه ...

خبر زیاتوی: په نوموړی سیمی کي د دښمن پر پوستو ورانده عملیات جریان لری او ورځ په ورځ په دښمن د محاصری کړی تنګیږی.

دیو بل خبر له مخی دمیزان د میاشتی په درویشتمه نیټه دمزدور رژیم دخارندوی لس تنه عسکر دفارم باغ له پوستی څخه دخپلو وسلو سره دالحاج مولانا جلال الدین حقانی تر قیادت لاندی دنومیالی قوماندان ګلاب کوچی دجبهې مجاهدینو ته تسلیم شوی دی.